

# اونیزه راستنیدنه
# هفته نامه عودت

د افغـــــــــانستان اسلامي امارت
د کــــډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مــــــــــــالی او اداري معینیت
د اطـــــــلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطـــــــلاعاتو آمـــــــریت

(۷۸) گڼه لړم ۱۴۰۴: شماره (۷۸) عقرب ۱۴۰۴صفحه اول: لومړی مخ


## د کډوالـو او راسـتنېدونکو چـارو وزیـر محـترم مولـوي عبدالکبیـر د کنـدز ولایـت لـه مرسـتیال مولـوي حبیب الرحمـن صهیـب سره وکتـل

په دې ناسته کې چې د کندز څو تنو نورو مسوولینو د ښاغلي حبیب الرحمن صهیب ملتیا کوله، په یاد ولایت کې یې د کډوالو د وضیعت او غوښتنو په اړه له محترم وزیر سره معلومات شریک کړل.
ښاغلي صهیب وویل، چې په کندز کې له ورستنو شوو مهاجرینو سره د افغانستان اسلامي امارت او د ځینو اړوندو نړیوالو او کورنیو بنسټونو لخوا مرستې شوې، خو د ژمي له راتګ وړاندې اړمن کډوال لانورو مرستو ته اړتیا لري.
ښاغلي صهیب یادونه وکړه، چې په کندز کې راستنو شوو ته په یو ښارګوټي کې د ځمکو ویش پیل شوی او د اسلامي امارت له اړوندو ادارو یې غوښتنه وکړه، چې په کندز کې د کډوالو شمېر ته په کتو نور ښاګوټي پلان کړي.
مولوي حبیب الرحمن صهیب همدارنګه یادونه وکړه، چې په کندز کې یو شمېر سوداګرو او موسساتو د کډوالو لپاره د خوراکي توکو او سرپناه په برخه کې ژمنې کړې دي او تمه ده چې اړمنو ته به پر وخت ورسېږي.
محترم مولوي عبدالکبیر د کندز سیمه ییزو مسوولینو ته ښه راغلاست وویل او اسلامي نظام ته د خدمت په برخه کې یې د مجاهدینو د هڅو ستاینه وکړه.
محترم وزیر وویل، چې اسلامي امارت د راستنېدونکو لپاره د اړتیا وړ مالي امکانات ځانګړي کړي او تر دې مهاله کډوالو ته د خدمت لړۍ په ښه ډول مخکې روانه ده .
محترم مولوي عبدالکبیر د ښارګوټو وړاندېز ته په اشارې سره وویل، چې اسلامي امارت د یو شمېر ښارګوټو د رغولو چارې پیل کړي او تمه ده، چې راستانه شوي په معیاري ښارګوټو کې د دایمي سرپناه په موخه ځای پر ځای شي.
د ناستې په پای کې محترم وزیر د کندز مسوولینو ته د ځینو سپارښتونو ترڅنګ د هغوي وړاندېزونو ته د رسیدنې یادونه وکړه.



## وزیـر امـور مهاجریـن و عودت‌کننـدگان، بـا چنـد تـن از بـزرگان و متنفذیـن قومـی ولسـوالی سـید کـرم ولایت پکتیـا دیـدار کـرد

محـترم مولـوی عبدالکبیـر، وزیـر امـور مهاجریـن و عودت‌کننـدگان، بـا چنـد تـن از بـزرگان و متنفذیـن قومـی ولسـوالی سـید کـرم ولایـت پکتیـا، در دفـتر کارش، دیـدار کـرد.
بـزرگان آن و لسـوالی، از همـکاری و بازدیـد هـای امـارت اسـلامی بـا مـردم ابـراز خرسـندی کـرده و گفتنـد: افغان‌هـا از دهـه هـا پیـش منتظـر پیـروزی نظـام اسـلامی بودنـد و از دولـت حمایـت مینماینـد.
سران قومـی و متنفذیـن حـاضر بـا اشـاره بـه برخـی از مشـکلات گفتنـد: مـردم سـاکن در و لسـوالی سـید کـرم از امـارت اسـلامی می‌خواهنـد کـه کارهـای عمرانـی را آغـاز کنـد و همچنین پیشـنهاد توزیع زمیـن بـه مهاجریـن در آن ولسـوالی را بـا محـترم وزیـر امور مهاجریـن در میان گذاشـته از امـارت اسـلامی نیـز درخواسـت همـکاری در زمینـه ی صـدور ویـزای کار بـرای فراهـم کـردن فرصت‌هـای شـغلی بـرای جوانـان سـید کـرم را نمودنـد.
محـترم مولـوی عبدالکبیـر از بـزرگان و شـخصیت‌های برجسـته‌ی بازدیدکننـده اسـتقبال کـرد و از فداکاری‌هـای مـردم سـید کـرم در پیـروزی نظـام اسـلامی تقدیـر نمـود.
محـترم وزیـر امـور مهاجریـن افـزود: نظـام اسـلامی مسـئولیت خدمـت بـه مـردم را بـر عهـده دارد و دولـت تـلاش می‌کنـد تـا مشـکلات افغان‌هـا را بـه موقـع حـل کنـد و از هـر طریـق ممکـن و مطابـق بـا موازیـن شرعـی بـه نگرانی‌هـای آنهـا رسـیدگی کنـد.
محـترم مولـوی عبدالکبیـر از دریافـت پیشـنهادات بزرگان سـیدکرم یـاد کـرد و افـزود: مشـکلات مـردم ولسـوالی سـیدکرم بـا هماهنگـی مراجـع ذیصـلاح حل خواهـد شـد.



## د چین له لوري د بشري مرستو دویمه جوپه د کډوالو چارو وزارت ته وسپارل شوه

د مرستو دغه جوپه، چې ۱۵۶ فابریکه یې کورونه پکې شامل دي، د چین لخوا د ۱۰۰ میلیونه چینایي ینو مرستې دویمه برخه ده، چې اوله یې پخوا یاد وزارت ته سپارل شوې وه.
د دغو مرستو د تسلیمولو پر مهال د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د چین له دولت او خلکو مننه وکړه او دا یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوستۍ او بشري اړیکو د پیاوړتیا ښه وبلله .
ښاغلي راشد د راستنو شویو او بې ځایه شویو ستونزو ته د رسېدنې په موخه د لا زیاتو همکاریو غوښتنه وکړه.
په کابل کې د چین سفارت مرستیال بائو خوهوی په خپلو خبرو کې د چین او افغانستان اړیکې تاریخي وبللې او ژمنتیا یې څرګنده کړه، چې مونږ به په هره ستونزه کې د افغانانو ملاتړ ته دوام ورکړو.
نوموړي وویل: دا مرستې د بېځایه شویو او راستنېدونکو لپاره د سرپناه او نورو اړینو امکاناتو د برابرولو په موخه چمتو شوې دي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ یوه ښه بېلګه ده.



## نشست مشترک وزارت امور مهاجرین با نماینده گان دفاتر همکار سازمان ملل متحد برگزار شد

بر ریاست محترم الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان نشست مشترک با نماینده گان دفاتر همکار، سازمان ملل متحد، برگزارشد.
دراین نشست که رییسان پالیسی و پلان، رسیده گی به و ضعیت بیجاشده گان داخلی وزارت و نماینده های هیات معاونت سازمان ملل متحد(یوناما) کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، سازمان بین المللی مهاجرت، اداره اسکان بشری و برنامه انکشافی سازمان ملل متحد حضور داشتند درخصوص پروژه های آنان در ولایات کندز و بغلان، بحث صورت گرفت.
محترم راشد از اجرای پروژه های بنیادی و حمایتی برای مهاجرین استقبال نموده خواهان تهیه ساختار( میکانیزم)، و ضاحت بیشتر از اجرای چنین پروژه ها و شریک سازی آن با وزارت امور مهاجرین شد.
معین مسلکی وزارت همچنین، بر واضح ساختن فعالیت و کارکرد و تعداد مستفدین نیز اشاره نموده از همکاری اش در آینده اطمینان داد.
خانم آرزو هتسه کوی مسوول بخش معاونیت هیات معاونت سازمان ملل متحد برای افغانستان( یوناما) در مسایل هماهنگی بشری با قدردانی از این نشست، از فعالیت دفاتر ملل متحد در اجرای پروژه ها برای مهاجرین در کشور معلومات داده گفت: پروژه ها به اساس ضرورت و پس از ارزیابی برای بیجاشده گان و برگشت کننده گان تطبیق میگردد و در این راستا هما هنگی دفاتر ملل متحد، موسسات و ادارات سکتوری در پاسخ دهی به مشکلات ضروری است.
وی بیان داشت آرزومندیم تا پروژه های بعدی با هماهنگی کامل با وزارت امور مهاجرین صورت گیرد.
محترم معین مسلکی وزارت امور مهاجرین بر ایجاد تیم تخنیکی، هماهنگی کامل، رهنمود های لازم بین دو طرف و و ضاحت بیشتر بر کارکرد و فعالیت تاکید نمود.
قرار است که به زودی تیم هماهنگی تخنیکی دو طرف معرفی و نشست های آینده آنان در خصوص موضوعات مشترک در هماهنگی کامل با وزارت امور مهاجرین برگزار گردد.



راستنیدنه عودت
هفته نامه



## د کډوالو چارو وزارت مسلکي معین د ژغورنې نړۍوالې کمېټې (IRC) له مرستیال سره ولیدل

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي معین محترم مولوي عبدالرحمن راشد د ژغورنې نړۍوالې کمېټې مرستیال او د برنامو رییس ښاغلي بوستان فهیم سره ولیدل. ښاغلي راشد د یادې کمېټې د مرستو پر دوام ټینگار وکړ او زیاته یې کړه: په روان کال کې له گاونډیو هېوادونو د کډوالو راستنېدنه ډېره شوې او اړتیا ده چې له هغوی سره لا ډېرې بشري مرستې وشي. نوموړی د کډوالو لپاره له دې کمېټې د مرستو غوښتنه وکړه او ویې ویل: د افغانستان اسلامي امارت له خپلو اصولو او پالیسو سره سم کډوالو ته مرستې ویشلې او اړتیا ده چې همکارې موسسې د کډوالو د ژوند ښهوالي په موخه د اسلامي امارت له پالیسو سره سمې مرستې وکړي. ښاغلي بوستان فهیم د کډوالو وزارت له همکاریو مننه وکړه ، له دولت او دغه وزارت سره د دې کمېټې د اړیکو لا پیاوړتیا او د لا ډېرو مرستو ډاډ یې ورکړ.



## یک تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

یک تفاهم نامه همکاری به ارزش ۱۰۰ هزار و ۲۹۴ دالر امریکایی با موسسه انکشافی نوای نی بانوان افغان و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.
به اساس تفاهم نامه عقد شده موسسه مذکور مبلغ ذکر شده را در بخش توزیع کمک نقدی، آموزش و آگاهی دهی برای ۱۱۵۰ تن برگشت کننده، بیجاشده و جامعه میزبان در ولایت نیمروز به مصرف میرساند.

## په بلخ ولایت کې کډوالو ته د ځمکې وېش په عملي بڼه پیل شو

د بلخ ولایت په جلال الدین محمدبلخي ښارگوټي کې له ایران او پاکستان هېواد څخه راستنو شویو کډوالو ته د ځمکې وېش د سیمهییزو چارواکو په شتون کې په رسمي بڼه پیل شو. د بلخ ولایت مرستیال والي ښاغلي نورالهادي ابوادریس د ځمکې د وېش پر مهال وویل: د افغانستان اسلامي امارت ژمن دی، چې له گاونډیو هېوادنو ایران او پاکستان څخه راستنو شویو کډوالو ته د دایمي مېشتېدنې او باعزته ژوند زمینه برابره کړي. هغه زیاته کړه، چې په بلخ ولایت کې د کډوالو لپاره د ۳۰۰۰ جریبه ځمکې په پراخوالي سره یو ښارگوټي جوړ شوی، چې په یاد ښار گوټي کې د کډوالو لپاره هر ډول اسانتیاوې په پام کې نیول شوې دي. د بلخ ولایت د کډوالو رییس مولوي اسدالله وفا د خپلو خبرو په ترڅ کې وویل، چې په لومړي پړاو کې به ۵۰۰ ثبت شویو کورنیو ته ځمکه وویشل شي او پاتې ۲۴۵۰ کورنیو ته، چې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت له لوري ثبت شوې دي، ژر تر ژره د ځمکې وېش پیل شي. نوموړي زیاته کړه، چې په یاد ښارگوټي کې د سړک، مسجد، دیني مدرسو، ښوونځیو او کلینیکونو جوړولو چارې هم په پام کې نیول شوې دي، چې د همکارو موسسو او نورو ادارو له لوري به یې د جوړښت چارې پیل شي. راستنو شویو کډوالو د افغانستان اسلامي امارت دغه اقدام وستایه او یاد ښارگوټي یې د کډوالو لپاره د سرپناه په جوړولو او ځینو برخو کې مهم وبلل.

## نزدیک به ۸۰۰ هزارخانواده در ماه گذشته در کشور کمک شد

برای ۷۹۸۷۳۴ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، و جامعه میزبان در ۲۷ ولایت کشور، در ماه گذشته ( میزان) کمک های بشری به ارزش ۱۷۰ میلیون ۷۰۸ هزار و ۱۸٦ افغانی توزیع شده است. خانواده های مذکور در هماهنگی موسسات و ریاست های مهاجرین در ولایات ( ارزگان بادغیس، بامیان، بدخشان بغلان، بلخ، پکتیا، تخار، جوزجان، خوست، دایکندی، سرپل، سمنگان غزنی، غور، فراه، قندهار، کاپیسا، کابل، میدان وردک، ننگرهار، نورستان، نیمروز ، هلمند، زابل، فاریاب و هرات) قبلاً شناسایی شده بودند. از جمله این تعداد برای ۷۹۳۳۱۹ خانواده مساعدت نقدی، خوراکی، غیر خوراکی و صحی و برای تعداد ۱۴۱۵ خانواده دیگر بسته های صحی، پوشاک زمستانی و غیر خوراکی در هماهنگی واحد های دومی این وزارت و همکاری نهاد های همکار ملی و بین المللی توزیع شده است.

## تر ۳۰۰ زیات بندیان د پاکستان هېواد له بندخونو ازاد او هېواد ته راستانه شول

په روانه اونۍ کې ۳۰۵ تنه افغان کډوال د پاکستان هېواد له بندخونو ازاد او خپل هېواد ته راستانه شول. د کندهار ولایت د سپین بولدک کډوالو لېږد امریت د معلوماتو له مخې، یاد کسان د پاکستان په بېلابېلو سیمو کې له یوې ورځې تر دوو میاشتو پورې بندیان وو. دغه کسان تر ثبت او د همکارو بنسټونو د بشري مرستو له تر لاسه کولو وروسته خپلو اصلي سیمو ته ولېږدول شول.

## یک شبکه آب رسانی در کمپ عمری تورخم ولایت ننگرهار، به بهره برداری سپرده شد

کار ساخت یک شبکه آبرسانی در کمپ عمری تورخم ولایت ننگرهار به ارزش ۱۱ میلیون افغانی از جانب صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل متحد (یونسف) آن ولایت تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.
به اساس گزارش ریاست مهاجرین آن ولایت در مراسم افتتاح شبکه مذکور ملا محمد نعیم آخند والی ننگرهار و ملا محمد یونس آخند وزیر احیا و انکشاف دهات حضور داشته، آنان با سخنرانی های شان بهره برداری از این شبکه آب رسانی را یک گام موثر در بهبود وضعیت صحی مردم دانستند.
به گفته بازمحمد عبدالرحمن رییس مهاجرین ننگرهار، شبکه مذکور شامل ساخت دو ذخیره آب به ظرفیت هزار متر مکعب با اتصال به برق آفتابی
( سولری) نصب و با تکمیل شدن آن حدود صد هزار تن به آب آشامیدنی صحی دسترسی پیدا نموده اند.



## د هېواد په څلورو ولایتونو کې تر زرو زیاتو کورنیو ته بشري مرستې وویشل شوې

په روانه اونۍ کې په کابل، خوست، بادغیس او سمنگان ولایتونو کې ۱۵۳۷ راستنو شویو، بېځایه شویو او کوربه ټولنو ته نغدي مرستې، خوراکي توکي او خېمې وویشل شوې.
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د دویمي واحدونو د راپورونو له مخې، په خوست کې۲۱۹ کورنیو ته۲۸۹ زره او ۸۰۰ افغانۍ، په کابل کې۱۱۸۷ کورنیو ته ۵ ډوله خوراکي توکي، په بادغیس کې ۸۳ کورنیو ته یو میلیون ۲۱ زره او ۲۵۰ افغانۍ او په سمنگان ولایت کې ۴۸ کورنیو ته یو باب خېمه د همکارو موسسو له لوري د کډوالو اړوندو ادارو تر پېژندنې وروسته وویشل شوې.
د یو بل خبر له مخې، په کابل کې د دې وزارت همکار بنسټ له لوري د مدني اسنادو په موخه ۸۰ تنو ته ۸۰ زره افغانۍ د یاد ولایت د کډوالو چارو ریاست تر پېژندنې وروسته، ورکړل شوې.

